مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۰۱/۱۰

# رباعیات

په انګلستان کې یو شهزاده دی
نوم یې هري دی په ځان غره دی
وایی وژلي مې افغانان دي
ښوک دی چې دلته زمونږ قاتل نه دی
******
که پاکستان دی که روس ایران دی
که امریکا ده که انګلستان دی
سرونه پرې کړي مالونه یوسي
څه بې مالکه افغانستان دی
******
که دغه مېنه د احمدشاه وای
که تاریخونه مو په ریښتیا وای
پردي به ولې ورته راتللای
مُلا به څنګه دلته پاچا وای
******
که دا وطن وای د مېړنیو
که په ریښتیا وای د ښنو زمریو
دربار به نه وای په حجرو کې
قدرت به نه وای د تُف دانیو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ